دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

اونیزه
شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

ای محمده! ووایه: که تاسې له الله جل جلاله سره رښتینې مینه لرئ نو زما متابعت وکړئ الله جل جلاله به له تاسې سره مینه وکړي او ګناهونه به مو وبخښي. الله پاک بخښونکی او مهربان دی. ای محمده! ووایه: د الله او د رسول منـنـه وکړئ. که مخ یې واړاو نو الله پاک کافران نه خوښوي. (آل عمران: ۳۱ - ۳۲ آیتونه)

درس حدیث

ابوهریره (رض) می گوید: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: «خداوند عز وجل می فرماید: هرگاه، بنده ام نیت کرد کـه کـار بدی انجام دهد تا زمانی که مرتکب آن نشده است، برایش ننویسید. و اگر مرتکب آن شد، فقط یک بدی برایش بنویسید. و اگـر آنـرا بخاطر من ترک کرد، برایش یک نیکی ثبت کنید. و اگر قصد انجام عمل نیکی را کرد ولی آنرا انجام نداد، برایش یک نیکی بنویـسید. و اگر آنرا انجام داد، ده تا هفت صد برابر نیکی برایش بنویسید. (صحیح البخاری)

شهادت خلورم کال، ۵۱ مه ګڼه، پرله پسې ۱۵۱ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د وری ۹ مه د۱۴۳۳ هـ ق د جمادی الاول ۵ مه د۲۰۱۲ م د مارچ ۲۸ مه

د پاکستان ځینې مذهبي ډلې د افغانستان په قضیه کې لوی لاس لري

کابل، رسنۍ: افغان دولت له تیرې اوږدې مودې راهیسې له پاکستانه غواړي، څو د سولې په پروسه کې ورسره مرسته وکړي. د افغانستان دولت او نړیواله ټولنه په دې باور دي، چې په افغانستان کې جنګیدونکي وسله وال طالبان د پاکستان له خوا حمایه کیږي او په همدې هیواد کې پناه ځایونه لري.
په دې وروستیو کې په پاکستان کې د یو شمیر مذهبي ډلو او ائتلافونو فعالیتونو یواړې بیا زور آخیستی. دا ډلې نږدې هره اوونۍ په لویو او وړو ښارونو کې ولسي غونډې جوړوي او احساساتي وینـاوې کوي.
خو دا غونډې او وینـاوې د ټولنـي د اخلاقي اصلاحاتو او مذهبي چارو په باب

پاتې ۴ مخ

کشتن عساکر ناتو توسط عساکر افغان یک حادثه انفرادی است

رادیو آزادی:
کشتن عساکر امریکایی و ناتو توسط عساکر افغان یک حادثه انفرادی است و نمایندگی از یک گرایش نمی کند که گویا مذاکرات با حکومت افغانستان را روی عملیات شبانه و سایر مسایل از مسیر خارج بسازد. این مطلب را آژانس خبری اسوشیتد پرس بنقل از لیون پنیتا وزیر دفاع امریکا گزارش داد.
وزیر دفاع امریکا بروز دوشنبه در راه سفر به کانادا به خبر نگاران گفت، حملات بشمول دو حادثه جداگانه روز دوشنبه که در آن دو عسکر بریتانیوی و یک عسکر امریکایی در جنوب افغانستان کشته شدند نباید بحث های بسیار حساس را راجع به اینکه ایالات متحده امریکا چگونه موضوع عملیات نظامی شبانه را با حکومت افغانستان هماهنگ بسازد از مسیر دور کند.

بقیه در صفحه ۴

PROPERTY OF ACKU

د افغانستان په دفاع وزارت کې د یوې لوېې ځان وژونکې حملې مخه ونیول شوه

تاند:
راپورونه وایي چې د افغانستان په دفاع وزارت کې دننه د ځانوژنې دیارلس واسکټونه او د هغو په تړاو د دې وزارت شپاړس غړي نیول شوي دي.
تاند ته باوري سرچینو وویل چې د ځانمرګو بریدونو واسکټونه د دفاع وزارت د موټرو په پارکینګ کې موندل شوي. دفاع وزارت د ارګ یا د ولسمشری د مانۍ په څو سوه متري کې موقعیت لري.
د افغانستان دفاع وزارت د واسکټونو نیونه تایید کړې خو په دې ارتباط یې د چا د نیولو خبر تایید نه کړ.
ویل شوي چې له ځانوژونکو واسکټونو څخه به په هغو بسونو کې د چاونې لپاره کار اخیستل کېده چې د دفاع وزارت عمله کار ته رسوي یا یې له وزارته کورونو ته وړي.

پاتې ۴ مخ

سروی: ۶۹ درصد اتباع امریکا خواهان توقف جنگ افغانستان اند

پژواک:
سروی انجام شده توسط نیویارک تایمز، نشان داده است که ۶۹ درصد اتباع امریکا، با جنگ افغانستان مخالفت نشان داده اند.
این سروی که طی چهار ماه گذشته توسط نیویارک تایمز انجام گردیده، در نتیجه آن از ۹۹۶ تن سروی شده و نتایج آن، روز گذشته توسط این روزنامه به نشر رسیده است. درسروی یادشده، ۶۹ درصدمردم با جنگ فعلی افغانستان مخالفت نشان داده وخواستار متوقف شدن این جنگ شده اند.
منبع علاوه نموده است که این میزان،

بقیه در صفحه ۳

زموږ د هېواد حالات کوم لوري ته روان دي؟
د سولې، سوکالۍ او که د جنګ او بدبختۍ په لور؟

سید فضل مولا لټون دریم مخ

جان الن چې سیفو شو نو پوه شو!

عبدالله کامه وال دویم مخ

کابل: پاکستان طالب مشران خبرو ته حاضرولای شي

افغان دولت وایې چې ګاونډی پاکستان د دوی او ۷ طالب مشرانو ترمنځ د سولې د خبرو لار برابرولی سي.
کابل وایې د طالبانو ډیر کلیدي مشران په پاکستان کې پټ شوي دي.
سیاسی شنونکي په دې باور دي چې پاکستان د افغانستان په سوله کې ډېر اغېزمن هیواد دی ځکه د کابل حکومت له اقتصادي او سیاسي پلوه له دغه ګاونډي سره ډېر مشترکات لري.
د سیاسي چارو مبصر میا ګل وثیق وایي د افغان حکومت هیله دا ده چې له پاکستان څخه د

پاتې ۴ مخ

سخنی با وکلای محترم پارلمان

دوکتور محمد انور

با آنکه نوشتن در رابطه با بی تفاوتی های نظام داران کشور ما به زعم خیلی از مردم به تنگ آمده ما بیهوده مینماید به قول آنها شتر کجایش راست است که گردنش راست باشد. اما مطبوعات و حلقات سیاسی عدم تذکر را کوتاهی در کار خود و در ادای مسؤولیت خود می شمارند که باید خاموش نمانند. مسؤولیت نبود خواننده و شنونده به حلقه معیوبه میان قانون ساز و مجری قانون اگر گم بود، گم باشد.
روز گذشته ولسی جرگه بنابر عدم تکمیل نصاب نتوانست بر قانون تشکیل، صلاحیت ها و وظایف قوه قضائیه بحث و آنرا به تصویب رساند.
شاید در ادارات دولت مامورین غیر حاضر زیاد باشد که مانند ترافیک در شهر کابل سبب جام ماندن کارهای مراجعین گردد و کاری که باید در چند لحظه به انجام رسد روزها را دربر گیرد. شاید این در حد خودش در ایجاد ناامیدي مردم از ادارات و کارکرد اجرائی آن اثر خودش را داشته باشد. اما آنجا که چشم مردم، چشم های مراقب و مسؤول به آن دوخته است پارلمان کشور ماست. خانه ایکه با انتخابات پر از شور و غوغا با قربانی ملت ما بنیاد شده است. بخاطر شرکت در انتخابات به آن انسان های آگاه، دردمند و هدفمند طعمه محرومیت اتهامات شده اند، هزاران و ملیونها افغانی و دالر امریکایی مصرف کمپاین، عکس، پوستر و نشر و چاپ و تبلیغ، مرام، هدف و وعده ها شده ماه ها وقت گرانبهای این ملت بخاطر گفتن، دیدن و شنیدن ضایع گردیده، ملیونهای دیگر از راه های مشروع و نامشروع بمصرف کمپاین رسیده، انگشت ها بریده شده زندگی مردم تهدید بخاطر شرکت در آن شده، استخبارات امنیتی عمال خود را بکار انداخته تا فضای رعب و وحشت را پخش نماید تا مردم در آن شرکت نه کنند. ...

بقیه در صفحه سوم

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

علم د مسلمانانو ورکه شوې متاع ده

د شنبې په ورځ د ۱۳۹۱ لمریز تعلیمي کال د یو لړ ځانګړو مراسمو په ترڅ کې چې ولسمشر حامد کرزي په کې وینا وکړه پرانستل شو، دغه بهیر هر کال د ولسمشر له خوا د ښوونځي د زنګ په وهلو سره پیلېږي او همدارنګه له دې لامله جوړې شوې غونډې ته وینا کوي.

سږ کال ولسمشر پخپلو خبرو کې یوې مهمې ټکي ته د اشارې په ترڅ کې وویل: کوم کسان چې په افغانستان کې د تعلیمي بهیر په وړاندې خنډونه اچوي هغوی غواړي افغانستان د ګاونډیو هېوادو غلام پاتې شي.

هر سلیم عقل لرونکی انسان له دې څرګند واقعیت نه انکار نشي کولې چې د اسلام په سپېڅلی دین کې تعلیم ته خورا زیات اهمیت ورکول شوې او د (هل یستوی الذین یعلمون والذین لایعلمون) په فرمایلو سره د کائناتو پیدا کوونکی او متصرف ذات خپلو بنده ګانو ته د علم اهمیت ورپه ګوته کړی دی، نو ځکه هېڅوک نشي کولې چې د علم له اهمیت او ضرورت نه سترګې پټې کړي.

پر دغې نړۍ لومړی ګام اېښودونکی انسان حضرت آدم علیه السلام هم الله تعالی له علم او پوهې سره لېږلی و، چې په قرآنکریم کې د (وعلم ادم الاسماء کلها) الفاظ په همدې واقعیت دلالت کوي.

آخري نبي محمد صلی الله علیه وسلم هم پخپل امت د علم زده کول فرض ګرځولي او فرمایلي یې دي چې څوک د علم او پوهې د زده کولو لپاره په سفر روان شي پرښتې دهغه تر پښو لاندې خپلې وزرې خوروي. کله چې د بدر په جګړه کې له کفارو څخه څو تنه قیدیان شول نو پر هغوی د خپلو ځانونو د خلاصولو لپاره یوه اندازه طلا کېښودل شوه چې دهغه په ورکولو سره له قید نه خلاص شي، خو هغو قیدیانو چې طلا نه شوه ورکولې هغوی ته دا وویل شول چې دهغې په بدل کې دې مسلمانانو ته لیک لوست ورزده کړي. د محمد صلی الله علیه وسلم له دې اقدام څخه دا خبره جوته شوه چې مسلمان له دښمن نه هم تعلیم او پوهه ترلاسه کولې شي. په صحیح روایتونو کې دا هم راغلي چې محمد صلی الله علیه وسلم ګڼ صحابه کرام د علم او ژبو د زده کولو لپاره نورو هېوادو ته استولي وو چې په ګڼو ډګرونو کې دهغوی مهارتونه او پرمختګونه په عربي ژبه وژباړي.

له کومې ورځې نه چې مسلمان امت تعلیم او زده کړه پخپل ځان فرض او لازم ګرځولې و، په ګرده نړۍ کې د پرمختللي، سرفرازه او خوشال ژوند خاوندان وو، په تاریخ، ریاضي، الجبره، جغرافیا، طب، ساینس، اقتصادي او پوځي میدان کې تر بل هر چا وړاندې و، خو له کله نه چې خپلمنځیو جګړو کې اخته شول او د تعلیم له نعمت نه محروم شول نو د زوال په داسې ژوره کنده کې وغورځېدل چې تر ننه ترېنه نشي وتلی.

د دیني علومو ترڅنګ د دنیاوي علومو زده کول هم خورا ضروري دي او حضرت محمد صلی الله علیه وسلم لارښوونه کړې چې په کوم کلي، قریه او سیمه کې چې د کوم یو کار او کسب ماهر موجود نه وي دهغه ځای د اوسېدونکو پر ټو کسانو فرض عین دي چې هغه کار زده او د خلکو ضرورتونه رفع کړي، د رسول الله صلی الله علیه وسلم له دې مبارک ارشاد نه معلوم شو چې د ژوندانه ورځنی ضرورتونو ټول هغه کسبونه او مهارتونه زده کول پر مسلمانانو فرض دي چې مسلمانان ورته اړتیا لري. .

آخر لدې څرګند واقعیت نه څوک سترګې پټولې شي چې په موجوده زمانه کې د ساینسي علومو پرته د ژوند په یو ډګر کې هم نه پرمختګ کېدلې شي او نه هم څوک خپل استقلال او بقا ساتلې شي، دیني علوم له ساینسي علومو سره او ساینسي علوم له دیني علومو سره هېڅ ډول ټکر او تضاد نه لري بلکې د یو بل ممد او معاون دي، ساینسي علوم اصلاً د قرآن کریم او نبوي احادیثو د اعجاز او حقانیت ښکارندوی دي ځکه چې الله جل جلاله له نن نه څوارلس نیم سوه کاله وړاندې په قرآنکریم کې څه فرمایلی دي ساینس نن دهغه په ښکاره ډول تصدیق کوي. په انساني ژوند کې د ساینس افادیت او ګټې له هېچا پټې نه دي، هغه خلک چې د ساینس له افادیت نه منکر دي هغوی هم د ساینسي علومو د ایجاد تر احسان لاندې دي، همدغه ساینسي وسایل د خپلو ناروغیو د درملنې لپاره هم استعمالوي او د خپل حمل نقل لپاره هم.

د خپلو ناروغیو د تشخیص لپاره له اکسرې، التراساونډ، ای سي جي، ایماراي، او د لابراتوارونو له ډول ډول مشینونو څخه ګټه پورته کوي، د خپلو معدو، زړونو، ګردو پړپوسونو او سترګو عملیاتونه کوي، ګولۍ خوري، پیچکاري لګوي، شربتونه څکي او عینکې اچوي، دا هر څه په دې واقعیت دلالت کوي چې د انسان په ژوند کې له اسلامي علومونه وروسته د ساینسي علومو ضرورت له بل هر څه زیات دی او لدېنه ګټه اوچتول د انسان له بنسټیزو ضرورتونو څخه ستر ضرورت دی. د الله تعالی له کائناتو څخه د انسانانو په ګټه استفاده کول د هر انسان حق دی ځکه چې لوی الله دا کائنات د انسان د خدمت او ګټې لپاره پیدا کړي او انسان یې د خپل بندګۍ لپاره، ګویا له دې لوی کائنات څخه ګټه نه اوچتول د الله تعالی نعمت ته لته ورکول دي.

د افغانستان مسلمان ولس دیني او دنیاوي دواړو علومو ته اړتیا لري، که دیني پوهه نه وي او ساینس د دیني علومو په رڼا کې استعمال نه شي نو همدغه ساینس د مسلمانانو روحاني او معنوي څواک د له منځه وړلو باعث ګرځي.

نو ځکه د افغانستان د اقتدار خاوندانو ته پکار دي چې د خپلو ښوونځیو، لیسو او پوهنتونونو لپاره داسې یو نصاب برابر کړي چې د افغانستان هر ډاکتر، انجنیر، اقتصاد پوه او ساینس پوه په اسلامي مفکوره سنبال وي، ...

پاتې ۳ مخ

اینهمه اتهامات برای چه؟

حمیدخان مؤمن زاده

در این اواخر سخنی مبنی بر اینکه دو نفر از اراکین دولت در بین خویش پرخاش لفظی و یکدیگر را متهم به جاسوسی کشورهای خارجی نموده اند که مطبوعات داخلی نیز تبصره ها و گزارشات خود را در رابطه تهیه کرده بودند، در حالیکه از همچو موضوعات بارها در داخل حکومت ده ساله گاه ناگاه از طریق مطبوعات افشاگری شده است، اینک بار دیگر در مقامات بلندپایه دور و نوای رئیس جمهور این سرو صداها بالا می شود.

اجتماع بشری تفاوتهای فکری و سلیقوی توأم است، و در اجتماعات عقب مانده همچو عکس العمل های خشن از انتظار دور نیست، می تواند طبعی تلقی گردد. و همینگونه عکس العمل های دور از توازن پای پنجاه کشور خارجی را به وطن ما کشانیده است.

مایه تعجب آنست که در این امر طبعی در نظام ده ساله ما نسبت دادن آن با احزاب سیاسی چه مناسبت دارد. آنهائی که می خواهند تسلط خود را بر این ملت مظلوم و بی دفاع تحمیل نمایند. حتی اگر به قیمت قتل و کشتار مردم بدست خود شان باشد و یا عساکر خارجی چرا پای رقابت های بر سر قدرت در میان خود شان را به دیگران چسپ می دهند.

آنها که نفرت و انزجار عساکر خارجی را در دفاع از یک نظام ناکام مشاهده می کنند و عکس العمل افغانها را در برابر بی اعتدالیهای آنها هم از فهم شان دور نیست گوش شان در برابر اظهارات نامزدهای جمهوری خواه ریاست جمهوری دوره آینده امریکا و نامزد گذشته معاونیت ریاست جمهوری دور گذشته هم کر نیست. اظهارت جنرال ستانلی مک کرستل فرمانده پیشین قوای ناتو در افغانستان و جنرال بعدی ایکه اخراج گردید اوشانرا فهمانده نتواند، انصاف را بر خود شان می سپاریم که بخاطر رسیدن به قدرت و یا ناله در محرومیت مقطعی از قدرت در سیت اپوزیسیون می نشینند و یا اینکه برای آوردن صلح و ثبات در کشور مسائل را از قنوات منطقی آن شناخت و توجیه نموده و با مسؤولیت پذیری بی آنکه به این حزب و آن تنظیم زبان به اتهام غیر موجه بکشاید فرهنگ عاقلانه و عادلانه تحمل پذیری را در پیش گرفته و از راه های معقول برای رسیدن به قدرت به نیت خدمت این مردم محروم دست و آستین بر زده و میدان مبارزه کشورهای منطقه را در دوام جنگ و رقابت ناروا سد نمود و به پرزیت هائی که خود را در بدنه این سرزمین چسپانیده اند که به هیچ جهتی مفید نمی باشند فرصت تباهکاری را متوقف ساخت.

جان الن چې سیفو شو نو پوه شو!

عبدالله "کامه وال"

د ناټو او امریکایي ځواکونو عمومي قومندان جنرال جان الن د (دوشنبې په ورځ) وویل چې په افغانستان کې وروستی پر له پسې پېښې لکه د طالبانو پر مړو د ادرار ویډیو، د ناټو په اډه کې د قرانکریم سوځېدا او د کندهار په پنجوایي کې د اوولس تنو ملکي افغانانو وژنه د مشرتابه ناکامي ښیي.

پښتانه یو متل کوي وایي چې سیفو شوې نو پو شوې له کله نه چې افغانستان ته نړۍ وال اشرګري راغلي نو له همغې ورځې زموږ پربېچاره اوتش لاسې ولس دهمدې په نامه بشر دوستانو له لورې په ډېره بې رحمانه اوله ټولو انساني او اخلاقي نورمونو پرخلاف داسې حملې کېږي چې نه تردې وړاندې چالیدلې اولوستلې وی او نه به یې وګوري دانسانیت علمبردارانو داسې کړنې ترسره کړې چې انسانیت پرې شرمېږي او زموږ د خاورې انسان اوحیوان ورته دښمن ښکاري اونه پوهېږي په کوم شکل دامظلوم اوبې پوښتنې ولس ووژني مال یې لوټ کړي پرناموس یې تیری وکړي او پرمقدساتو یې ملنډې ووهي دپنجوایی پیښه او تردې وړاندې یې هم داسې کړنې ترسره کړي چې یادول یې دانسان غوني زیږوي، ننګوي اویو ځل بیا وسلوالې مبارزې ته هڅوي زه نه پوهېږم چې امریکا زموږ له ولسه د کومې دښمنۍ غچ اخلي زموږ ولس خو په تیر تاریخ کې هم له امریکا سره کومه جګړه نه ده کړې اونه مو ورسره کومه پوله اوپټې شریک دی که دوی دالقاعدې اونورو نړۍ والو تروریستي سازمانونو پسې راغلي وی نو دهغوی ځای اودتمویل مرکزونه خو معلوم دي ور دې شي او ورسره دې معلومه کړي، القاعده خو په افغانستان کې وجود نه لري اونه کوم افغان دالقاعده غړي توب لري اوکه یې لري اودوی پروړاندې کره شواهد لري نو هغه دې په ډاګه کړي چې زموږ ولس یې وپېژني اوکه چیرې رېښتیا هم داجنګ دامریکا دپخواني ولسمشر په وینا صلیبي جنګ وي اوهر مسلمان دوژلو قابل وي نو بیا دې د القاعده اوتروریزم نو لرې کړي چې موږ هم په خپل سبا بیګا پوه شو اونو ر ورته دیو مرسته کونکي هیواد په سترګه ونه

ګورو موږ خو پدې خوشفهمي کې یو چې امریکا اونړۍ واله ټولنه له موږ سره زموږدهیواد په بیا زغونه اوحکومت جوړونه کې مرسته کوي.

خو اوس پوه شو چې دوی هم دلیونیو اوسرسامو یوه پوځي ډله راوستې چې کله وغواړي زموږ دبېګناه ولس وینې توی او خپل زړونه پرې یخ کړي نو بیا ددې سرسامو اودانسانیت نه نا خبرو واکي ورسست کړي بیا نو داځناور خصلته سرسام امریکا یې فوځیان هغه څه کوي چې خوښه یې وي نه ترې ماشوم په امن وي او نه دزړو اوتورسرو خیال ساتي بس هغه څه کوي چې یې په وس پوره وي

خو چې کله زموږ دبې وسه ولس اوبې اختیاره تش په نامه دولت غږ پورته شي چې دامظلومان دکوم جرم قرباني شول داخو عام وګړي وو چې نه خو القاعده پیژني اونه یې له طالب سره کوم تړاو درلود ده دوی دوژل کیدو ګناه څه وه نو بیا دامریکا اوورسره راغلو اشرګرو ځواب داوي چې ښځنه غواړو اویا وایي چې داعسکر پر روحي ناروغي اخته و اویا وایي چې نشه یې کړې وه نو تاسو خفه نه شئ بیابه داسې پیښه نه تکرارېږي خو هره پیښه یې تربلې دردونکې اوغمژنه وي خو ددوی غبرګون اوښنه دخندا وړوي لکه څنګه چې تیره ورځ جان الن په امریکا کې دپنجوایی دپیښې دتورن امریکایی عسکربیلزپه هکله وویل:

چې بېلز دا قتلونه په دوو پېرو کې کړي. یعنې دوه وار ددې مظلومو اوتش لاسو انسانانو پسې تللې اوداسې اټکل کېږي چې ممکن بېلز به په هماغه شپه نشه و. لومړی خو داچې څنګه امریکایي سرتیري دخپلې فوځي قرار ګاه مسلح بهر وځي او هیڅ څوک دې پرې خبر نه وي او بله داچې دافوځي قرارګاه دپنجوایی له کلي سره په څومره واټن کې پرته ده اوبله دخندنۍ خبره داچې په لومړي ځل خو که په هر تکتیک چې و ووتو اومرګ ژوبله یې رامنځته کړه خو دادویم وار څنګه بهر شو اودهغه کلي خلک څنګه خلک وو چې ددومره ډزو سره رابیدار نه شول او داسرسبیل اوځناور خصلته انسان پرې بیا هم حمله کوي او روغ رمټ راوځي. د پوځ له مقرراتو سره سم په جنګي سیمو کې د الکولو څښل منع دي خو له دې خبرو داسې ښکاري چې دوی یو ځل بیا زموږ پر ولس ملنډې وهي اوپر زخمونو یې مالګې دوړوي له یوې خوایي وژني اوله بلې خوا ورته وایي چې نشه وم خو دا اوس ټولو ته دلمر پرځیر څرګنده ده چې دا د یو تن کار نه بلکې دیو ګروپ کار وه ګنې له یوه تنه خو زموږ تورسرې هم وسله اخلي دایو پلان شوی کار وو چې نه لومړی و اونه وروستې ښکاري.

زموږ د هېواد حالات کوم لوري ته روان دي؟

د سولې، سوکالۍ او که د جنګ او بدبختۍ په لور؟

سید فضل مولا "لټون"

له کومې ورځې نه چې د افغانستان په باب د سولې خبرې پیل شوي او له امریکا سره د ستراتېژیک تړون د خبرو اترو ترڅنګ په (۲۰۱۴) میلادي کې د ناټو د پوځونو د وتلو خبره شوې ده. زموږ د هېواد له هر پرخه پوهېدونکي وګړي سره دا دوه پوښتنې راولاړې شوي:

۱- آیا رښتیا به هم په افغانستان کې سوله رامنځته شي او زموږ هېواد به که خدای کول د سوکالۍ په لور روان شي؟

۲- که د ناټو په مشرۍ امریکا له طالبانو سره سوله وکړي او بیا نړیوال ځواکونه له افغانستانه ووځي، په هېواد کې به یوه بله کورنۍ جګړه پیل نه شي؟

دا و دې ته ورته نورې داسې پوښتنې هم شته چې د تشویش زېږوونکي دي: لکه؛ که نړیوالې مرستې زموږ له هېواد سره کمې شي، نو آیا زموږ د هېواد اقتصادي توان دومره دی چې لږ تر لږه د ملي اردو او ملي پولیسو معاشونه او لګښتونه ورکړای شي؟

همدارنګه زموږ هغه شمېر هېوادوال چې په تېرو لسو دولسو کلو کې د امریکایي ډالرو له برکته د اداري فساد، خیانت، رشوت او نورو له لارې میلیونران شوي دي هغوی به په هېواد کې پاتې شي او که له خپل بار بوڼې سره به بیا بهرنیو هېوادونو ته مخه کړي؟

دغه ډول که په دولتي سطحه اقتصادي او ټولنیزې ستونزې لاپسې ډېرې شي، نو زموږ مظلوم ولسونه چې همدا اوس یې پر سیاسي لیډرانو د دولتي چارواکو په ګډون خپل باور له لاسه ورکړی دی، د پورته حالاتو په رامنځته کېدا سره به خدای مکره بوې بلې غلامۍ او یا د هېواد تجزیې ته غاړه کېږدي؟

که پورته پوښتنو ته ځیر شو، له هر چا سره همدا فکرونه دي چې آخر څه به کېږي او زموږ برخلیک به څه وي، دا خو د عامو ولسونو اندېښنې دي، بلې خواته په لوړه سطحه دولتي چارواکي رڼه خبره نه کوي او یا د پیل په غوږ کې ویده دي چې ملت ته کومه د ډاډ او اطمینان خبره وکړای شي. ددې ترڅنګ یو څو نور په اصطلاح لس کلن سیاسي لیډران او دهغوی حواریون په دې هڅه کې دي چې په څه ډول له اقتداره د محرومیت عقدې سړې کړي، د همدغو کړیو له لوري په چاپي او تصویري رسنیو کې له کوم ملي تصور او پروګرام پرته داسې تو کمیزې آوازې خپرېږي چې که ددوی له خوښې پرته د طالبانو سره سوله وشوه، نو اول آسمان د راپرېوتو خطره ده ... او داسې.

تر اوسه د هېڅ یوه سیالي لیډر له خولې دا خبره را ونه وتله چې له ګاونډیانو او نړیوالو سره ډیپلوماتیک روابط پر خپل ځای، خو موږ به د یوه ژوندي ملت په حیث خپله اینده پخپله جوړوو، پخپله به کار کوو، تر هغو به په نیمه ګېډه ژوند کوو، چې څو مو خپل هېواد او هېوادوال پر خپلو پښو درولي نه وي، د هېچا له خولې وانه ورېدل شول، چې زموږ په ګران هېواد کې د نړیوالو او ګاونډیانو ترمنځ د څو کلن استخباراتي جنګ په مقابل کې چې همدا موږ افغانان یې د اور په لمبو کې سوځوو څه کول په کار دي؟ کوم ډول تدابیر باید ونیول شي چې هم د ګاونډیانو تشویشونه له منځه ولاړ او باوري شي او هم مو له نړیوالې ټولنې سره اړیکې لاپسې کلکې او محکمې شي او هم مو خپل هېواد او ولس ژغورلی او د سوکالۍ په لوري روان کړی وي.

تر اوسه هېڅوک نه شي ثابتولای چې پردیو دې له خپلو ځانګړیو ګټو پرته کوم بل هېواد ودان کړی وي، هو ! ددې مثالونه شته چې ژوندیو او متحدو ملتونو له بهرنیو مرستو دهغوی (بهرنیانو) د ګټو په نظر کې نیولو ترڅنګ خپل هېوادونه هم ودان کړي دي او له سوکالۍ نه برخمن دي.

پردې خبره خو هر افغان پوهېږي چې زموږ په هېواد کې د بهرنیو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي، سیاسي او تخنیکي ګټو په سر جګړه روانه ده، دلته د جګړې یوه لوري ته د جنګ لپاره وسلې، مهمات او نورې آسانتیاوې د خدای لپاره نه ورکول کېږي او نه څوک د افغانانو او افغانستان له غمه مړه دي او نه د ناټو غړي هېوادونه خپل نازولي عسکر د افغانستان لپاره وژني او نه په ډېرو خواریو ګټلې پیسې او نظامي مهمات د افغانستان او افغانانو لپاره لګوي. د یوه لوري تر شا قوتونه دا هر څه د خپلو ارځیزو ګټو له خطر سره د مخامخېدو له وېرې کوي او بل لورې هم همداسې وګڼئ. اوس خبره موږ افغانانو ته راجع کېږي چې باید څه وکړو؟

موږ کولای شو چې د یوه واحد ملت په توګه ددغو ګردو ستونزو د حل لپاره یوه بل ته لاسونه ورکړو او بریالي او سوبمن ترې راووځو.

لکه د جمهور رئیس خبره طالبان هم افغانان دي، د پاکستان د بهرنیو چارو د وزیرې حنا رباني کهر له خبرو به خبر شوي وي، چې د طالبانو تحریک یواځې موږ جوړ کړی نه دی، بلکې په دې کار کې د انګلستان او د متحده ایالاتو ملاتړ هم راسره و. طالبانو به د نوموړې له وینا نه درک کړي وي چې زموږ بهرنی ملاتړ د څه لپاره و او اوس د څه لپاره دی او که موږ ددغو بهرنیو قوتونو خبره نه منو لکه چې ورته تجربه شوې ده څه به راسره کېږي، هغوی باید په دې خبره باندې هم فکر وکړي، چې دغه ملاتړ یې د بهرنیانو د ګټو ترلاسته راوړلو پورې اړوند دی، نه پخپله د طالبانو په اهدافو پورې، زه همدا اوس وایم چې کله هم د پاکستان ښکاره ملاتړ کوونکي او نورو د پردې تر شا ملاتړیو هېوادونو ستونزې له امریکا او لویدیځې ټولنې سره حل شوې، نه به بیا طالبان وي او نه یې تحریک او نه د پناه ځای.

افغانانو ته که د پاکستان اخلاص اوس هم څرګند نه وي، الله دې وپوهوي.

همدارنګه ایران هم لکه چې په سیمه کې د لویدیزې ټولنې او په سر کې یې امریکا یو مخالف هېواد دی، هغوی هم که د هر چا ملاتړ کوي او یا دلته یې د لګښتونو یوه اوږده لړۍ پیل کړې ایران هم د افغانانو له غمه مړ نه دی، بلکې دلته د خپلو اهدافو د لاسته راوړلو لپاره لګښتونه کوي، دغه رنګې چین او روسیه چې په پټه د افغانستان ګډوډیو ته لمن وهي، دا هم د هماغوی ګټې ایجابوي، چې په څرګنده د ناټو له غړیو هېوادونو سره سرخوروي او په پټه هغه څه کوي چې ملي او بین المللي ګټې یې ایجابوي.

په دې ترتیب سره په ګرده نړۍ کې ښایي یو هم داسې هېواد او ملت پیدا نه کړای شو، چې د نورو ګټې پر خپلو ملي هغو لوړې وګڼي.

دا خو یواځې موږ افغانان یو چې په لومړي سر کې خپلې ځانګړې ګټې پر ملي هغو غوره ګڼو او د همدغو ځانګړیو ګټو د لاسته راوړو لپاره د پردیو په چوپړ کې یو، او چې کله مو همدا ځانګړې ګټې له خطر سره مخامخېږي او یا یې په ګانده کې د مخامخېدو خطره وي چیغې مو آسمان ته خېژي.

زموږ بدبختي دا ده چې له مقدس جهاد پرته هغه هم د بېلا بېلو تنظیمونو تر نامه لاندې د یوه واحد ملت په توګه په ملي مسایلو کې مو نه ګډ موقف او دریځ ولرلای شو او نه مو ګډ عمل وکړای شو.

اوس چې حالات ورځ تر بلې د خرابېدو لوري ته روان دي او موږ یې هم له تشویشونو او اندېښنو سره مله کړي یو، راځئ چې د خپلو ملي مسایلو په باب د ګران هېواد مېشت ټول میلیتونه د یوې مېوه لرونکې ونې د بېلا بېلو ښاخونو په څېر له یوې چینې نه ځانونه خړوبه کړو او د یوه واحد ملت په حیث خپلو راپېښو ستونزو ته د حل یوه لاره وټاکو او د همغې تر شا ودرېږو، چې دوستان او دښمنان مو له ایل او ښکېل نه ناهیلي شي.

سخنی با وکلای محترم پارلمان

(ادامهء از صفحه اول)

...کارت هائی جعل و تزویر نموده اند تا نتایج انتخابات را مخدوش گردانند، ماه ها در محاسبه آراء چشم مردم در انتظار نگهداشته شده تا نتایج آن اعلان گردد. با آبروی قضا بازی شده تا بر نتایج آن بازنگری صورت گرفته، با اعتبار مجموع نظام به بی قدری دیده شده تا کمیسیون انتخابات پس از ماه ها کشمکش رأی قضا را نادیده گرفته و از جیب خود نتیجه ایرا بر سرنوشت کشور تحمیل نموده، روزها و ماه ها را متعرضان بر جاده ها ریخته و جاده ها را بر رخ این قوم مظلوم بسته اند تا پارلمان حالت نهائی پارلمانی را بخود گرفته، می گذریم از آنکه چه مردمی از خلاهای قانون انتخابات از دادن نماینده محروم مانده اند و هیأت اداری با چه بزکشی ها انتخاب شده و با کدام مصارف از کدام جیب ها و جهت ها و...

با این همه قربانی هائی که این ملت می دهد انتظار مردم آنست که پارلمان بحیث نمایندگان شان همیشه در صحنه حاضر و در دفاع از حقوق شان با چشم باز به وظیفه ادامه دهند. وظیفه سنگین نمایندگی از ملت وظیفه ایکه هیچ مرجع دیگر نمی تواند خلای آنرا پر نماید.

مرجعی نیست که قانون را مورد بحث قرار دهد و صلاحیت تصویب آنرا داشته باشد. آنچه که یک دوره پارلمانی به کمال جدیت و دقت باید انجام دهد. تا مصالح ملت را به بهترین وجه تأمین نماید و برای این نسل و نسل های بعدی راه سالم زندگی را ترسیم بکند. تا زمانی که باز هم و سالها بعد پارلمانی آید که با توجه به ظروف و شرایط زمان خودش در آن تجدید نظر نماید. وکیل پارلمان نماینده همین نسل است و از جانب همین نسل موجوده با ارسای قوانین مناسب حال خود ما و با داشتن استعداد پیشبینی آینده گان ما ادای مسؤولیت می کنند. فرزندان و احفاد ما باید بدانند که پدران و اسلاف شان مردمانی سنجیده و آگاه و مردم با بصیرت بوده اند که کشوری سرشار از غناهای مادی و معنوی به آنها به میراث گذاشته اند.

باور کامل داریم اگر پارلمان رول مراقبتی خود را از ارگانهای اجرائی به نحوه احس ایفا نماید در سد نمودن انواع فساد مؤثرتر از ده ها کمیسیون خواهد بود که برای پرداخت معاشات و امتیازات غیر موجه از جانب رئیس جمهور کرزی تأسیس می گردد.

هرگاه وکیل پارلمان از طریق کمیسیونهای مربوطه اجراات ارگانهای مختلف حکومت را زیر نظر داشته باشد. کمی و کاستی ها را رهنمائی و اصلاح و در کمبودی ها به تغیر و تدوین قوانین بپردازد آگاهی از مشکلات ظرفیت وکلا را در بهبود بخشیدن قوانین بالا برده، کارمندان دولت را از محاسبه سخت گیرانه پارلمان برحذر نگهداشته، دست زورمندان را از تجاوز بر حقوق مردم کوتاه ساخته و در حصول رضایت خاطر عامه مردم گامی بلند برداشته شده و اعتبار وکیل، پارلمان و نظام دولت به نظر مردم رول قاطع بازی می کند و وکیل را نزد مؤکلین اش مؤفق جلوه می دهد و برای انتخاب مجدد او در دوره های بعدی راه را باز می نماید و شاید با مصارف کمتر و کمپاین انتخاباتی از قبل انجام شده.

غیاب وکیل از مجالس پارلمان در حالیکه وضع موجوده نابسامان کشور ما را به یک سر در گمی رهنمون می شود برای همه آنهائی که از نظام ریاستی موجوده به تنگ آمده اند و می خواهند نظام پارلمانی را جانشین آن سازند ناامید کننده است، هرگاه رویه پارلمانی در حد پابندی به ادای وظایف موجوده ناسالم باشد از کجا می توان امیدوار بود که پارلمان های آینده بتواند در حدی مسؤولیت پذیر باشد که قوای اجرائیوی و نظام حکومت را از طریق پارلمان و با تعاملات پارلمانی رنگ و رونق دهد. زمانی جامعه جهانی استعداد این ملت را در آوردن نظامی کامیاب به نظر شک بیند و از حمایه و پشتبانی مادی و معنوی شان دست بردارند. بار دیگر این سرزمین به میدان کشمکش و بازی رقابت های ناجائز کشورهای منطقه مبدل خواهد شد.

مردم ما از وکلای شان انتظار دارند که حضور در پارلمان را بر مصروفیت های شخصی و فامیلی ترجیح دهند، مشاغل تجارتی خود را به دوستان نزدیک و طرف اعتماد خود واگذار شده، حتی مجالس غم و شادی را به نفع نمایندگی از مردم در پارلمان و ادای وجایب ملی فدا نمایند، زیرا خدمت به خلق خدا و رفع آلام مردم از بزرگترین عبادات بحساب می آید.

د سرمقالې پاتې برخه...

...د دهري لادین او سیکولر کېدو پر ځای راسخ العقیده او د اسلام د سپېڅلي معتدل دین په رڼا کې د اعتدال په لاره روان شي. ددې ترڅنګ په هېواد کې د امانت، دیانت او د قانون د احترام داسې اجتماعي روحیې ته وده ورکړی شي چې زموږ هر ډاکتر، هر انجنیر، هر استاد، هر قاضي، هر سیاست پوه او هر امر او مامور د انسانیت د خدمت له جذبې نه سرشاره وي، خپل علم، کمال او کسب د نورو انسانانو د استحصال لپاره نه بلکې دهغوی د خدمت او ښېګړې لپاره وقف کړي.

له هر هغه علم او کمال سره چې د تقوی، اخلاص، بشردوستي، ایثار او همدردي روحیه شامله نه وي هغه د مجبورو وګړو لپاره د ثواب پر ځای عذاب جوړېږي چې ښکاره بېلګې یې زموږ پخپل هېواد افغانستان کې د هر چا د سترګو په وړاندې دي، ډاکتران مو هم په ګناه کې ککړ دي او انجنیران مو هم، وزیران مو هم د خپلو جیبونو په ډکولو کې مشغول دي او قاضیان مو هم، والیانو، ولسوالانو، قوماندانانو، تجارانو، اقتصاد پوهانو او سیاست پوهانو چې له خپل ولس سره کوم سلوک شروع کړی هغه دومره شرموونکی دی چې قلم دهغه له لیکلو څخه عاجز دی.

د پوهنې وزیر ښاغلی فاروق وردک ته دې خدای تعالی نور هم توفیق ورکړي چې د افغانستان راتلونکې نسل ته نور هم په زړه پورې نصاب جوړ کړي، نوموړی چې د خپل وزارت په موده کې کوم نصاب برابر کړی دا واقعاً د ستاینې دی، که چېرته په ښوونځیو او لیسو کې دغه نصاب په صحیح معنی تدریس شي نو په یقیني ډول ویلی شو چې د افغانستان د هېڅ یو زده کوونکی ذهن به د عقیدې او نورو اسلامي معلوماتو په ځانګو کې تش پاتې نشي او هر مسلمان شاګرد به ددې جوګه وي چې د خپلې اسلامي عقیدې موثره دفاع وکړي او زموږ راتلونکي هر تعلیم یافته خوان به د یو ښه ډاکتر، انجنیر، سیاست پوه، استاد، وزیر، معین، والي، ولسوال، رئیس، مدیر، آمر، مامور، تجار، قاضي .... ترڅنګ به ښه دیندار، متقي، همدرد، خدمتګار او زړه سواندې مسلمان هم وي دغه لوړ مقصد ته د رسېدو لپاره ضروري ده چې ښاغلی کرزی او نور حکومتي لوړ پوړي چارواکي له همدا اوس نه د تقوی، اخلاص، دیانت، امانت، ایثار او همدردي ددا سې روایاتو د قائمولو صمیم عزم وکړي چې راتلونکی نسل لپاره یو الګو وي او افغانستان د امن، ورورولی، عدالت، همدردی، ایثار، عاطفې انسان دوستی او خېر ښېګړې په ښکلې بڼ بدل شي.

سروی: ۶۹ درصد اتباع ...

نسبت به سال گذشته، ۱۶ درصد افزایش یافته است؛ سال گذشته ۵۳ درصد اتباع امریکا خواستار خاتمه دادن جنگ افغانستان بودند.

در راپور یادشده، آمده است که در نظریات هردو حزب سیاسی دیموکرات وجمهوریخواه امریکا در مورد جنگ افغانستان تغییر وارد گردیده است.

این سروی درحالی انجام گردیده است که اخیراً در افغانستان و غرب نیز تقاضای خروج نیروهای خارجی افزایش یافته؛ اما در عین حال شماری از مسوولین و کارشناسان، از خروج قبل از وقت سربازان امریکایی اظهار نگرانی نموده اند.

محمد حسن حقیار کارشناس مسایل سیاسی میگوید که امریکا نیز از این جنگ خسته شده است.

وی به پژواک گفت که حکومت و ارتش امریکا، بهانه جویی میکند تا از افغانستان خارج شود.

نامبرده افزود: "همه روزه تابوتهای نیروهای امریکایی از افغانستان منتقل میگردد؛ در آنجا مردم امریکا دیگر تحمل ندارند، تا پسران خود را دراینجا بکشند."

افغانستان د نړۍ په رسنيو کې

د کندهارد پېښه د قربانيانو کورنيو ته پېسې ورکړل شوې

انډيپنډنټ:
بريتانوی انډيپنډنټ ورځپاڼې د کندهار د پنجوايي د پېښې د قربانيانو کورنيو ته د پيسو ورکولو مساله څېړلې ده.
د ورځپاڼې په وينا دغه پيسې د امريکا د پوځ له خوا برابرې شوي او کورنيو ته د هغوی د هروژل شوي غړي په خاطر دونيم ميليونه افغانۍ او هرزخمي غړي ته يې تقريباً پنځه لکه افغانۍ ورکړل شوي دي.
انډيپنډنټ ليکي، کله چې له ملابـاران څخه چې خپل ورور يې په دې پېښه کې له لاسه ورکړی، پوښتنه وشوه، چې دغه پيسې به د ده قناعت حاصل کړي، په ځواب کې وويل، چې که ټوله امريکا ورته ورکړي هم نه شي کولای چې ده ته خپل ورور بيرته را ژوندی کړي.
امريکايي نيويارک ټايمز ورځپاڼې هم دا مساله څېړلې او د حاجي جان اغا له قوله چې د تره زوی يې په دې پېښه کې وژل شوی، ليکي، موږ د کندهار د والي دفتر ته بللی شوي وو او راته وويل شول، چې دغه پيسې د امريکا د ولسمشر بارک اوباما له خوا مرسته شوي دي.
د امريکا د پوځ ډلګي مشر رابرټ بيلز د مارچ د مياشتې په اولسمه په کندهار کې د اولسو کسانو په

وژلو تورن شوی دی. لويديځو ورځپاڼو دغه راز يوې نوې مسالې ته هم اشاره کړې، چې ګومان کيږي، دغه امريکايي عسکر به د شپې له تيارې څخه په ګټې اخيستو په دوو مرحلو کې د پنجوايي په څوکليو کې خلک وژلي وي.
تراوسه دا نه ده روښانه، چې دغه تورن عسکر به کله محاکمه کيږي.

د څينو راپورونو له مخې که دغه عسکر مجرم وپيژندل شي نو به اعدام شي.
ګارډين:
بريتانوی ګارډين ورځپاڼې پريوې بلې مسالې ليکنه خپره کړې ده. «د ناټو د عسکرو مړينه او په افغانستان کې د پوځي ستراتيژۍ پرسرراپورته شوی کړکيچ». ناټو همدا تيره ورځ وويل، چې دوه بريتانوي

سرتيري د يوه کس له خوا چې د افغانستان د ملي اردو يونوفورم يې په تن و، په هلمند کې ووژل شول.
ګارډين ليکي، سره له دې چې داډول پېښې په افغانستان کې د پوځي ستراتيژۍ پرسر انديښنې زياتوي، خو په تيرو وختونو کې هم داډول پېښې تکرار شوي دي.
ورځپاڼه د ۲۰۰۹ کال د پېښويادونه کوي، چې يوه افغان پوليس پنځه بريتانوي عسکر وژلي وو او يوه افغان پيلوټ هم د کابل په هوايي ډګر کې اته امريکايي سرتيري وژلي وو.
ګارډين وړاندې ليکي، هر کله چې دغسې پېښې رامنځ ته کيږي، د ناټو او افغان ځواکونو په منځ کې بې اعتمادي زياتيږي.
د ګارډين له دې تحليل سره سم ناټو ښايي په دې ټاکيد وکړي، چې دغه وروستی پېښه به په افغانستان کې د دې ترون پرپوځي ستراتيژۍ اغيز ونه کړي خو د ورځپاڼې په وينا په دغې تګلارې زياته اتکا ورځ تربلې سختيږي څکه هم په بريتانيا او هم په افغانستان کې عامه افکار له دې هيواده د ناټو د ځواکونو د وتلو پرلوري په حرکت کې دي.

د پاکستان څيني مذهبي ډلې ...

نه بلکې په افغانستان کې د ناټو ځواکونو د حضور او د پاکستان له لارې دې ځواکونو ته د اکمالاتي کاروانونو د ليږد د راتلونکې په باب وي.
که څه هم دا ډلې د سياسي هغو په نسبت په ولس کې چندانې محبوبيت نه لري، خو يوشمېر کارپوهان په دې باور دي، چې پر سخت دريزو وسله والو ډلو د پام وړ نفوذ ترڅنګ د پاليسي جوړوونکيو او استخباراتي ادارو له خاص لطف و کرمه هم برخمنې دي.
ژورناليست او ورځپاڼه ليکونکی شميم شاهد وايي، څيني مذهبي ډلې نيغ په نيغه د افغانستان په قضيه کې لوی لاس لري او که وغواړي نو کولی شي، افغانستان له لا نور ورانې څخه وژغوري:
د پاکستان استخباراتي او پاليسي جوړوونکې ادارې پر مذهبي ګوندونو او ډلو د پام وړ واک لري او همدغسې دا ډلې د افغانستان په حالاتو کې هم لوی لاس لري او واک لري.
خو له بده مرغه دا مهال دوی هلته منفي رول لوبوي، خو که دا رول په مثبت ډول ولوبول شي، نو بې له شکه په افغانستان کې به د سولې په ټينګښت کې ډيره مرسته وشي.»
د افغانستان جمهور رييس حامد کرزي تيره ميلادي مياشت اسلام اباد ته په خپل سفر کې د جمعيت علمای اسلام په ګډون د څينې هغو مذهبي ډلو له مشرانو سره، چې ويل کيږي، له وسله والو طالبانو سره نژدې اړيکې لري وکتل او له هغوی څخه يې د سولې بروسې په لړ کې د مرستې غوښتنه وکړه.
د جمعيت علمای اسلام له يوه مشر مفتي کفايت الله نه مې وپوښتل، چې ايا ګوند يې حاضر دی، چې په دې سلسله کې له افغانانو سره مرسته وکړي؟
«ګورئ يو د هغو طالبانو دريخ دی، چې په جنګي ډګر کې جنګيږي او بل د امريکا دريخ دی، د امريکا دريخ دا دی، چې لومړی بايد طالبان ښه وځپل شي، کمزوري شي او بيا ورسره خبرې وشي، چې زما په نظر دا هيڅ ته د منلو وړ نه دی.
نو اوس بايد پريښودل شي، چې امريکا ماته وخوري او که هرڅوک له دې شکست څخه د امريکا په ژغورلو کې مرسته کوي نو دا به يوه لويه تيروتنه وي. پريږدئ چې امريکايان ماته وخوري او ناکام بيرته ستانه شي.
افغان دولت ته مې هم مشوره دا ده، چې پريدې ږدي چې امريکا له ماتې سره مخ شي.»
سره له دې، چې د پاکستان صدراعظم يوسف رضا ګيلاني څو اوونۍ وړاندې پر وسله والو طالبانو غږ وکړ، چې له افغان دولت سره دې د سولې خبرو ته کښيني، خو لا هم په دې لړ کې هيڅ ډول پرمختګ نه دی شوی.
شميم شاهد د پاکستان ملکي حکومت بې وسه ګڼي او وايي، چې اصلي ريموټ کنټرول د پاليسي جوړوونکيو او استخباراتي ادارو په لاس کې دی:
«که چېرته د پاکستان پاليسي جوړوونکې او استخباراتي ادارې له زړه نه وغواړي، چې په افغانستان کې امنيت ټينګ شي؛ نو دوی کولی شي، د طالبانو په ليکو کې له خپلو امکاناتو او هم د همدې مذهبي ډلو له لوري پر طالبانو فشار راوړي؛ څو وسله کيږدي او عادي ژوند ته راوګرځي.»
د امريکا متحد ايالات او افغان دولت په دې وروستيو کې له وسله والو مخالفينو سره د سولې خبرو هڅې ګړندی کړي.
سره له دې، چې په کندهار کې د يوه امريکايي پوځي له خوا د اوولسو ملکي افغانانو تر وژنې وروسته ويل کيږي، چې په قطر کې د امريکا او طالبانو ترمنځ نيغ په نيغه خبرې ځنډيدلې، خو د کارپوهانو په باور که د پاکستان نظامي کړی صادقانه وغواړي کولی شي د همدې مذهبي ډلو او پر طالبانو د خپل نفوذ له لارې دا پروسه د برياليتوب تر بريده ورسوي.

کشتن عساکر ناتو توسط عساکر...

جان الن قوماندان نيروهای امريکايی و ناتو نيز بروز دوشنبه در يک توضيح عليحده گفت، ايالات متحده امريکا و افغانستان روی عمليات شبانه در يک نقطه حساس مذاکرات قرار دارند و من اطمينان دارم که هر دو طرف بلاخره بجايی می رسند که می خواستند بايد برسند.
به اساس مسوده موافقتنامه يی که قرار است در هفته جاری ميان دو طرف به امضا برسد، واحد های اردو افغانستان نقش بزرگتری در پلان گزاری و انجام عمليات شبانه داشته و هيات داوری هرچند حق ويتو نه بلکه اظهار نظر را درين مورد خواهند داشت.
پنيتا وزير دفاع امريکا می گويد، اينجا اشخاص کينه توز و يا کسانی خواهند بود که از روی خشم دست به حملات می زنند، اما اين ها حوادث انفرادی است که نمی تواند اعتماد ميان دو کشور را صدمه بزند و يا ما را از ستراتيژی اصلی که عبارت از انتقال مسووليت های امنيتی به نيروهای افغان است منحرف بسازد.
جنرال مارتن دمپسی لوی درستيز ايالات متحده امريکا که درين سفر ليون پنيتا وزير دفاع را به بوگوتا (کلمبيا) همراهی می نمايد به خبرنگاران گفت، راه حل اساسی مشکل اينست که قابليت های ضد استخباراتی اردوی افغانستان بلند برده شود.
لوی درستيز ايالات متحده امريکا علاوه نمود، خطر بخاطری متوجه نيروهای امريکايی و ساير نيروهای ائتلاف است که، آنها نيروهای امنيتی افغان را تربيه می نمايند، مشوره می دهند و رهنمايی می کنند. اما من بطور کامل می توانم بگويم که در حال حاضر، امنيت ملی ايجاب می نمايد تا اين خطرات را بپذيريم.
پنيتا وزير دفاع امريکا در حال حاضر در اتاوا می باشد و در آنجا با وزرای دفاع کانادا و مکسيکو روی مسايل و تهديد های مشترک امنيتی مذاکره می نمايد. وزير دفاع امريکا گفت، سه کشور راجع به چالش های مشترک و روی بهبود بخشيدن معلومات مشترک استخباراتی با هم بحث و مذاکره خواهند کرد.

د افغانستان په دفاع وزارت ...

دا ادعا هم شوې چې دا واسکټونه يوازې پنځه ځلوښت دقيقې مخکې تر دې کشف شوي چې په يوولس بسونو کې وچاودل شي. په دغو بسونو کې يوولس سوه تنه وړل کېږي.
د دې دسيسې په تړاو د دفاع وزارت شپاړس منسوبين د/دوشنبې په ورځ/ ماسپښين مهال ونيول شول.
دې مسلې د افغانستان په امنيتي اورګانونو کې د دولت د وسله والو مخالفانو د نفوذ په باب انديښنې لا زياتې کړې.
پرون د افغانستان د امنيتي ځواکونو يوه غړي د ناټو دوه بريتانوي پوځيان ووژل.
په افغانستان کې د ناټو عمومي قوماندان جنرال جان الن نن وويل چې د ناټو درې پوځيان د طالبانو له لوري نه، بلکې د افغان پوځې له لوري وژل شوي دي.
له پيښې وروسته داسې اټکلونه خپاره شوي وو چې ممکن حمله کوونکی طالب وي خو د افغان امنيتي ځواکونو يونيفورم يې اغوستی وي.

در کنفرانس ريکا روی ۱۷ پروژۀ اقتصادی برای افغانستان توافق شد

کابل، رسانه ها:
پنجمين کنفرانس همکاری های منطقوی اقتصادی (ريکا) در تاجکستان، با توافق روی ۱۷ پروژۀ اقتصادی به افغانستان، پايان يافت.
اين کنفرانس، ديروز با شرکت رؤسای جمهور افغانستان، تاجکستان، ايران و پاکستان و نماينده های بيش از پنجاه کشور و سازمان بين المللی، در شهر دوشنبه پايتخت تاجکستان داير شد و ديروز (۸ حمل) خاتمه پذيرفت.
خبرنگار اعزامی آژانس خبری پژواک، از شهر دوشنبه گزارش داد که داکتر زلمی رسول وزير امورخارجۀ کشور، درنشست مشترک خبری با همتای تاجکستانی اش گفت که در اين کنفرانس، روی عملی ساختن ۱۷ پروژۀ اقتصادی برای افغانستان، توافق صورت گرفته است.
وی، تمديد خط آهن، لولۀ گاز و انتقال انرژی برق و آب را از مهمترين اين پروژه ها عنوان نموده، افزود: "بعضی از اين پروژه ها به حدی بزرگ اند که يک کشور به تنهايی نمی تواند آنرا عملی نمايد."
زلمی رسول در مورد اين پروژه ها و هزينۀ آن، توضيح نداد و گفت که جزئيات آن، بعداً از سوی وزارت خارجۀ کشور به دسترس رسانه ها قرار داده خواهد شد.
اين درحالی است که ديروز توافقنامۀ همکاری بين افغانستان، ايران و تاجکستان در مورد انتقال خط آهن، انرژی برق وآب در شهر دوشنبه به امضا رسيد، که بر اساس آن خط آهن از ايران به افغانستان و تاجکستان احداث می گردد و خط انتقال انرژی برق از ايران به افغانستان و تاجکستان، ترميم می شود.
سران سه کشور توافق کردند که يک نل انتقال آب از تاجکستان به ايران، از طريق افغانستان نيز ايجاد می گردد.

کابل: پاکستان طالب مشران ...

طالبانو په را خپلولو او پر هغوی د نفوذ په درلودلو کې کار واخلي خو اسلام آباد به هيڅکله هم دغه غوښتنه و نه مني.
په همدې حال کې ولسمشر کرزی وايي زموږ هيله دا ده چې په راتلونکو اوونيو او راتلونکو څو مياشتو کې د پاکستان اسلامي جمهوريت د افغانستان د ملي پخلاينې د پروسې په ملاتړ کې هغه اقدامات ترسره کړي چې دلته د سولې او ثبات په راوستلو کې ډير مهم دي، او د پاکستان اسلامي جمهوريت کولای سي چې د افغان دولت او د طالبانو د مشرانو ترمنځ د مستقيمو مذاکراتو فرصت برابر کړي.
پاکستان ظاهرا په ځلونو د افغانستان د سياسي روغې جوړې له بهير سره د مرستې تېر ډبولی خو په عمل کې يې بيا لږترلږه تر اوسه څه نه دي کړي.
په پاکستان کې د طالبانو د عمده مشر ملا عبدالغني برادر توقيف د افغان دولت د سولې د بهير پر وړاندې د پاکستان يو بل سبوتاژ بلل سوی.
برادر هغه وخت پاکستانيو استخباراتو توقيف کړ چې له افغان حکومت سره يې اړخ لګولو ته تابيا نيوله. افغان حکومت تمه لري چې په راتلونکو څو اونيو کې به د ملي پخلاينې په لاره کې مهم ګامونه پورته کړي.
د طالبانو پخواني چارواکې او د سولې د عالي شورا غړي مولوي ارسلا رحماني هم همدا اوونۍ رسنيو ته ويلي و چې طالبان اوس مذاکرو ته ليواله سوي دي او د سياسي ډيالوګ لاره غوره بولي.

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي ياست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
اونيزه شهادت
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتياز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدير: عبدالله "کامه وال"
مرستيال مدير: عبدالخليل (محمد خليل)

د اړيکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۷۳۲
مسؤول مدير: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستيال مدير: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونيزه د هر ليکوال او د نظر خاوند د ليکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونيزه حق لري چې د ليکوال ليکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د ليکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالېږل شوې مطالب نه مستردېږي - يوازې سرليکنه د شهادت د اونيزې رسمي نظر دی.

ديزاين: خواجه وحيدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سيلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com